تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ایمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له یو بل سره مینه ونه لرئ، آیا زه تاسې ته د داسې یو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مینه به مو سره پیدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ

له ابو هریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي دي: «تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو مو چې ایمان نه وي راوړی، او تر هغه به مؤمنان نه شئ تر څو چې له یو بل سره مینه ونه لرئ، آیا زه تاسې ته د داسې یو څه لارښوونه ونه کړم چې که چېرته مو وکړ نو مینه به مو سره پیدا شي؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې جنت ته به یوازې مؤمنان داخلیږي، او ایمان نه بشپړیږي او د اسلامي ټولنې حالت تر هغې نه سمبږي تر څو په خپلو کې له یو بل سره مینه ولري. بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم غوره کارونو ته لارښوونه وکړه چې له لارې یې مینه عامیږي، هغه د مسلمانانو ترمنځ د سلام اچولو خپرول دي، چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو لپاره ستړي مه شي ګرځولې ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3361